فدامحمد نومیر
۲۰۲۰/۱۲/۲۰

# د صلحي کوتره

چا ویشتي په ډبره ده زما سپینه کوتره
پښې ګوډې ، وزر ماتې ده زما سپینه کوتره

په هسکو دنګو یې پرواز ؤ کرځیدله
د سیل څخه جدا کړه چا زما سپینه کوتره

په سرو سترګو ژړیږي حال د زړه ویلي نسي
تورولې بیا کوم باز ده زماسپینه کوتره

سرې وینې وینې ښاخې د وزرو او د پښونه
د چا په لاس کښیوتې وه زما سپینه کوتره

خوابدې ده له خلکو اِشارو کې راته وایې
معصومه بې ګناه ده دا زما سپینه کوتره

چې زیرى یې دصلحي وړه چا غلا کړ نیمه لارکې
په لاس د صیادانو کې ده زما سپینه کوتره

ادا شکر د خداى کرم چې نه یې ده وژلې
زخمونه به یې روغ سي هغه زما سپینه کوتره

نومیر وطن غلبیل کړ چې طبیب ورته پیدا کړي
پرواز به اِن شأالله کړي بیا زما سپینه کوتره

ډیسمبر - 13 - 2020
متحده ایالات ، جنوبي کلفورنیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ